ډاکتر اصغرخیل منګل

هامبورګ ـ آلمان

# «د پاچاخان آندونو او مبارزې ته لنډه کتنه»




«د پاچاخان آندونو او مبارزې ته لنډه کتنه» د هغه کتاب نوم دی چې ښاغلي محمد اقبال «وزيري» ليکلی دی. کتاب په ۱۳۶ مخونو کې د پښتونخوا د پوهنې ديرې لخوا په پيښور کې چاپ شوی دی. او ليکوال يې دغه اثر د هند د مغولي واکمنو پر ضد د پښتنو د ملي آزادي بښونکي غورځنګ لاربښود، ملي مبارز او د پښتو ژبې ليکوال پير روښان ارواح ته ډالۍ کړی دی.

دا د ښاغلي وزيری صاحب دوهم اثر دی چې لوستونکو ته يې وړاندې کوي. لومړی اثر يې «د ثور پاڅون، د کې. جي. بي. دسيسې او شوروي يرغل» په نامه د مخه خپور شوی دی. وزيري صاحب د دواړو اثرونو په ليکلو کې له علمي متود څخه کار اخيستی دی او دا يې ښولې ده چې پېچلي موضوګان، فلسفي بحثونه، تاريخي مسائل په ساده، رڼه او روانه پښتو کې هم افاده کېدی شي. او په دې توګه يې په عين حال کې پښتو ته هم خدمت کړی دی.

د دغه اثر اصلي موضوع عبدالغفار خان مشهور په پاچا خان دی خو يوازې د هغه بيوګرافي هم نده. پدې اثر کې د هغه فکرونه او د خپلواکۍ په لاره کې د هغه مبارزې او اصلاحي کارونه بيان شوي دي.

همداشان په کتاب کې پاچاخان پښتو ژبه او هنري ادب؛ ګوند او عدم تشدد فلسفه؛ پاچاخان جمهوريت او دموکراسي؛ پاچاخان او مذهب؛ پاچاخان او د ښځو مقام؛ پاچاخان او پښتونستان او د پښتونستان په هکله د افغانستان دريځ؛ د پاچاخان لخوا د هند او افغانستان مشرانو ته ليکونه او پيغامونه؛ د حاجي ميرزا علي خان د ايپي فقير مبارزې؛ « پاکستان او دموکراسي» او ډير نور په زړه پورې تاريخي مسائلو باندې بحثونه شوي دي.

څرنګه چې د پاچاخان اوږد ژوند آرام او دوديز نه وه د ده ژوند په حقيقت کې د دود په وړاندې بغاوت و او دا د دې لپاره چې د خپلو پښتنو په ژوند کې بدلون راولي. پاچاخان لا د ځوانۍ په وخت کې متوجه شو چې په پښتنو کې د غچ اخستلو دود «د خپلو وروڼو، ترېورانو، کورنيو او خپلوانو تر منځ تشدد زېږوي». د پاچاخان اصلاحي چارې په ډېرو کتابونو او ليکونو کې بيان او څېړل شوي او پدې اثر کې په ځانګړې توګه د هغه د خپلواکۍ د مبارزو تر څنګ پدې برخه کې هم يوه لنډه څېړنه شوې ده.

د هند په نيم وچه کې د عدم تشدد فلسفه ډېره پخوانۍ ده. چې د بوديزم فلسفه يې يوه څرګنده بېلګه ده. مهاتما ګاندي يې دومره نوميالی او بريالی پلوی تېر شوی دی چې په نړۍ کې د ډېرو لېاره سرمشق ګرځېدلی دی. پاچاخان پرته له دې چې ګاندي د عدم تشدد د فلسفې نه خبر وي، دې پايلې ته ورسيد چې پښتانه د عدم تشدد د فلسفې پر بنسټ بايد نه يوازې د انګلسيانو پر ضد خپل وطن د آزادۍ لپاره يو موټې کړي، بلکه د دوی تر منځ د بې اتفاقۍ او غچ اخيستلو ريښې له بېخه وباسي. پاچاخان د عدم تشدد فلسفې پر بنسټ د ګاندي سره يو ځای پدې بريالی

شو چي د انګریزانو څخه د هندوستان آزادئ وګټي. خو د پښتنو د آزادی په لاسته راوړلو کې بریالي نشو.

غفار خان د پښتنو د یووالي مسئلي ته خانګړې پام اړولې و او همدې موخې د لاسته راوړلو لپاره یې زیات کارونه ترسره کړي دي. ده به تل پښتنو ته ویل «یا به یو کیږو ګني ورکیږو».

پاچاخان هغسي چي د «فخر افغان» پر ستاین نوم لمانځل شوي دی، د آزاد افغانستان خلکوسره کلکه مینه درلوده او د افغانستان د خلکو او قومونو تر منځ د یووالي لپاره په کوزه پښتونخوا او افغانستان کې ډیر وګرځید او د افغانانو یووالي به یې د اساسي ضرورت په توګه هر چیري خلکوته په جرګو او مرکو کې بیانوه. او د همدغه اتحاد لپاره به و چي هغه مړې د هغه د وصیت له مخې په ۱۹۸۸ کال کې د جلال آباد په ښار کې د پاچا آمان الله خان مزار ته څیرمه خاوروته وسپارل شو.

په نوموړي کتاب باندي د هیواد وتلي تاریخ پوه ښاغلي پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ «د لوی مصلح پاچاخان په یاد» تر سرلیک لاندي سریزه هم لیکلي ده. زه پداسي حال کې چي ښاغلي محمد اقبال وزیري ته د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم د نوموړي اثر چاپ ګرانو وطنوالو ته ښه زیري بولم او دی کتاب سره د اشنا کیدو بلنه ورکوم.

ډاکتر اصغرخیل منګل

هامبورګ - آلمان